بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## د میانمار کړکېچ او د دغه هېواد پر ولسمشرې (انګ سان سوچي) فشارونه
(ژباړه)



**خبر:**

د روهنګیا د کړکېچ د دوام تر څنګ د نړۍ د ګڼ مېشته مسلمان هېواد (اندونیزیا) د بهرنیو چارو وزیر تېره اونۍ د یکشنبې پر ورځ د بېړنیو خبرو لپاره میانمار ته لاړه. وزیر ریتنو مارسودي په داسې حال کې د میانمار پلازمېنې یاګون ته ورسېد، چې د دوی د هېواد په پلازمینه جاکارتا کې اعتراض کوونکو د میانمار سفارت ته څېرمه لاریونونه کړي وو. د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د جمعې پر ورځ وویل: د روهنګیایي مسلمانانو پر وړاندې تاوتریخوالی نسلوژنه ده؛ همدا راز د بریتانیې د بهرنیو چارو وزیر بوریس جانسون انګ سان سوچي ته خبرداری ورکړ، چې د اقلیت پر وړاندې ظلم مو د هېواد شهرت ته ضربه رسولې ده.

**تبصره:**

موږ هیله‌من یو، چې د مسلمانانو رهبران او د دوی دولتونه به یوازې په اعتراضي کړنو بسنه نه کوي او د روهنګیایي ښځو، ماشومانو او نرانو نسلوژنه، چې د بودایي تروریستي راهبانو په اخلاقي توجیه او د میانمار د فوځ او دولت له خوا تر سره کیږي؛ ژر تر ژره ودروي. فکر وکړئ که چېرې د اندونیزیا او ترکیې امت په واقعي بڼه د یوه مخلص مومن رهبر تر امر لاندې یو واحد امت وی، د میانمار بحران به څومره وخت دوام کړی وی؟ که ټول مسلمانان سره متحد او پر یوه غږ وی او د واحد بدن او واحد فوځ په توګه یې عمل کړی وی، ایا په میانمار کې به د مسلمانانو وینې بېځایه توېې شوې وې؟ د میانمار مسلمانانو ته د ډېر کم ګواښ له امله به هم د خلافت د دولت فوځ هلته لېږل شوی وی؛ هغوی به نه یوازې هلته اسلامي خاورې ازادې کړې وې، بلکې د سوریې، فلسطین او ټولو اسلامي خاورو د ازادولو لپاره به یې خپلو فتوحاتو ته دوام ورکړی و.

**﴿وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ﴾**
[التوبه: ۳۶]

***ژباړه:*** *له ټولو مشرکانو سره وجنګېږئ، لکه څنګه چې دوی په ډله ییزه توګه له تاسو سره جنګېږي او پوه شئ، چې الله سبحانه وتعالی له پرهېزګارانو سره دی.*

اسلام موږ ته اجازه نه ده راکړې، چې د بشر پر لاس د جوړو شوو قوانینو په لټه کې شو. موږ مکمله حل لاره لرو، چې د نړۍ خالق موږ ته رالېږلې ده. د دې لپاره چې د الله سبحانه وتعالی د رحمت وړ وګرځو، باید د هغه له دستوراتو څخه پیروي وکړو او اسلامي دولت جوړ کړو او وروسته به موږ د اندونیزیا، ترکیې، اوکراین، بنګله‌دېش، شام، فلسطین او ټولې نړۍ مسلمانان یو واحد امت وو او دغه امت به د اسلام تر بیرغ لاندې د ټول بشریت لپاره د واقعي سولې راوړلو لپاره بس وي.

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: محمد حمزه**

**۱۴۳۸هـ ق، د ذوالحجی ۱۶مه**

**۲۰۱۷م، د سپتمبر ۷مه**